**دمقالې لیکونکی:** مسعود ودان (Masud Wadan).

**منبع اودخپریدو نیټه** : ګلوبال ریسرچ«2017-04-04».

**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سید حسا م «مل».

---

## د شوروي – افغا ن جګړې له وختہ دسعودی عربستا ن په ډالرو سره په زرګونو افغانانوخپل ژوند دلاسه ورکړل

*Saudi Arabia's Dollars have killed thousands of Afghans since the soviet - Afghan war*

سعودی عربستا ن پرافغا نستا ن با ندي دامریکي دمتحده ایالاتو دکال (۲۰۰۱) دیرغل څخه وړاندی او وروسته په افغا نستا ن کی دجګړی دګرم ساتلو دپاره په کا فی اندازی سره ما لی مرستی او بودجه ځا نګړی کړی وه –نودهمدی اصل په نظرکی نیلو سره په ډاګه ویلي شو چي سعودی عرب دافغانستان ددغه رواني جګړی اصلی عامل او مفتن یو هیواد دي. هسی یو هیواد چی د هغه د میلینونو ډالرو په بسپنی سره جګړه لاتراوسه په افغا نستا ن کی دوام لري .



افغانستان دامریکي د متحده ایالاتو اود « نا تو » پواسطه سره وروسته له رانیونی او یا اشغال څخه د نړی زیا تر هیوادونه د دغه جنګ ځپلی هیواد د بیا رغوني په روند کی څه د بیا جوړونی اوڅه د ظا می جوړښت په برخو کی په یو اویا په بل ډول سره خپل کمکونه ترسره کړل،اما سعودی عرب برخلاف لکه هغسی چی د کا ل (۲۰۰۱) څخه مخکی په افغانستان کي جهاد دی ډلو تپلو او بیا وروسته د طا لبا نو سره یعنی

دهغوظا لما نه رژيمونو سره چي د افغا نستا ن پر خلکو با ندي خپل حا کميت چلول مرستی ترسره کول ، په يوناڅا پی بنی سره له صحنی څخه ورک اوتری تم شو اوله همغه وخته څخه بيا لا تراوسه افغانستان ته په دوستانه اود بشرخواها نی په سترګو نه دی کتلي .

په ياد مو با يد اووسی چي سعودی عرب ، پا کستا ن او عربی متحد امارات هغه هيوادونه دی کوم چي د طا لبا نو ځيونکي ، سرکش اوياغي رژيم چي په کلی بنی سره د بشر دروا حقونو څخه سرغړونه کول په رسميت پيژند لي وه .

سعودی عرب تريو زيا ت حده پوری په کال (۱۹۸۰) کی په اصطلاح د مجاهد ينو د«مقد س د فاع» په جګړه کی چي د شوروبا نو په مقا بل کي سره جنګيد ل خپل مالي مرستي تر سره کول کوم چي دخپل دغه مالی مرستي په دوام سره افغانی مجاهيدينو په داخلي جګړي لاس پوري کړل اودهمدي داخلی جګړي په کولو سره په کابل کي نژدی (۶۵۰۰۰) کابليانو خپل ژوند دلاسه ورکړل اوپه ميلينونو نورو افغا نا نو مجبور شول چي ګا وندی هيوادونو اوعربی ملکونو ته کډی اومهاجرت وکړل اوڅه نوريی دهيواد په دننه کي له خپل سيموڅخه بی ځايه شول چي د دی تولو ناخوالو اصلی محرک اومرسته کونکی همدغه سعودی عربستان دی کوم چی بيا دامريکی پواسطه سره دافغا نستا ن له اشغال څخه وروسته هم دتروريست طالبانو سره خپل مرستي ترسره کول اولاتراوسه هم دپاکستان پواسطه سره کوم چی واشنګتن او رياض ته عزيز اوملګری دی خپل کمکونه دطالبانو سره جاری سا تلی دي .

دپاکستان د(آی اس آی ) دافغان ددفتر پخواني **بريګارد محمد يوسف** پخپل يوخبری نا سته کی داسي څرګند ونه کوي :

« که چيری مونږ ته يوه ډالر دامريکی دمتحده ايالاتو له طرفه راتلل نوهغه بل دالر مونږ ته همزمان له سعودی عربستان څخه راتلل » .

دمرستو دغه مجموعه له ما لی اوکمک کونکومنابعو څخه چي په سونوميلينونوډالرو کيدل په کال (۱۹۸۰) کي د ا مريکی د«سی آی اي» له طرفه د (آی اس اي) ځا نګړی با نکی حساب ته انتقا ليد ل کوم چي د**بريګا رد محمد يوسف** په وينا سره زيا ت مرستی دعربستان له طرفه د ا مريکي د مرستي په پرتله ترسره کيد ل اوبرڅيره پر دغو مرستو دعربستان شهزاده ګان اوشيخان په ډيرسخاوتمندانه بنی سره زيات نقده پيسی دغه افغانی جهادی ډلو تپلو ته ليږل اودهغو سره يعنی دافغانی مجاهيد ينوسره ډير نژدی اوصميمی اړيکی لرل .

د پيسو اود کمکونو دغه تول نقدی ليږدونی او انتقا ل څو څو ځلی د مجاهد ينو د (مقدس جهاد) ترعنوان لاندی چي د شوروی اتحاد د نظا ميا نو په وړاندي په افغانستان کي سره جنګيد ل ترسره شوی دي.

يا داچي د دی جګړی د دوام د پا ره ما لی مرستی د شوروی اتحاد د(کافرانو)

دوهلو اوددبولو په مناسبت سره ترسره کيدل کوم چی د دی مرستو په اړين سعودی عربستان داسلامی دندی دترسره کولو اويا دجهاديانو سره دمهربانی او دشفقت په لرلو سره کوم روښانه او قناعت بخښونکی دليل نه درلود- اما هغه څه چي مونږ ته دسعودی عرب د دی مرستو په اړه اند يښنی را پيدا کيږی هغه دادی چي زمونږ په نظر دغه مرستی يوائحی اويوائحی دغرب سره دخپل ملګرتيا سا تل دی نه داچي سعودی عربستان په داسی موقيعت کی قرار لری چی هغه دافغانستان درواني جګړی او په مينځنی ختيځ کی دکوم ګټي په انتظار کی اووسی .



او همداراز لکه چي مونږ ټولو ته ځرګند دي هغه دادي چي اوس سعودی عرب دغربی هيوادونو دجګړه غوښتني دپا ليسي په دام کی يوراښکيل شوی يا يو انغښتی هيواد دي اوکيداي شي چي د يو څه بی تقا وتی اويا د بی نظمي په ښودلو سره اويا د غربی هيوادنو دجګړيزی پا ليسی د چتر څخه په وتلو سره د سرچپه اوياد معکوسي پا يلي اويا چلند سره مخا مخ شي.

دا هم بايد له ياده مو ونه اوځی اوهغه داچي سعودی عرب په کال (۲۰۰۳) کی دعراق په جګړه کی خپل ملاتړ دامريکی دمتحده ايالاتو اود هغه د غربی متحدينو سره ودرول يعنی خپل توافق ونه ښودل کوم چي دهمدی پا ليسی په ښود لو سره دسعودی عربستان په د ننه کي په کال (۲۰۰۳) کی يولړ بمی چادونی په رياض اود هغه هيواد په نورو برخو کی ترسره شو يعنی دنوموړی هيواد مصونيت تر ګواښ لاندي پريوتل.

دلته يوبل مهم مطلب چی بايد هغه ته پام واړول شی هغه دادي چي دسعودی عربستان ځنی شهزاده ګان په افغانستان کي دامريکي اود (نا تو) دسرتيرو شتون او حضور نه غواړي اودهغه روښانه دليل دادی چی سعودی عرب اوپاکستان هغه دواړه هغه هيوادونه دی چی د ا فغا ن د مجا هيد ينو اود طا لبا نو رژيمونه مخکی له دی چي افغا نستا ن دامريکی پواسطه سره اشغا ل شي په رسميت پيژند لی وه او عربستان ددي غوښتونکی نه وه چی د طا لبا نو رژيم را نسکور کړل شی .

نو په دې پول سره ویلي شو  چې القاعده  او طا لبا ن   دواړه  د سعودی عربستا ن محصولات  او لاسته راوړنه دي  اوپه دې کی دهیچا سره شک اوشبهه نشته  چې **اسامه بن لادن** د سعودی عربستا ن د استخبا راتو یو پیژندل شوی جاسوس وه  کوم چې دمتحده ایالاتو  د(سی آی ای)  له خوا د یو اجیر  معا ش خور  په صفت  پا کستان ته  د(سی آی ای ) اود (آی اس آي) په غوښتنې سره  افغانستان ته ولیږل شو  دا  هغه روڼ حقیقت دی چې خپله  اسامه بن لادن  پخپل اظهاراتو کې  داسې په ډاګه کوي :

« زه دسعودی عربستان داستاذي په صفت افغا نستان ته ولیږل شم چې د(کفار)  شوروی لښکرو سره  مخ امخ جګړه وکړم ، زه د پاکستان  اودافغانستان ترمیځ  په سرحدی برخه کی ځای پرځای شم اوله ماسره له سعودی عربستان اودځنی نورو هیوادونوځخه مجاهدین د شوروی لښکرو سره  په جګړه  کې په  دواطلبا نه  بڼی  سره  یوځای  شول  چې باید مونږ دهغوی په مقا بل کی په جګړه لاس  پوری  کړو   نو د دی دپاره چې دجګړی  په مهارتونو اویا په تکتیکونو با ندي یوڅه پوها وی ترلاسه کړو نو همغه وه  چې په همدی سرحدی برخه کی مونږ یو نظامی اډه یا اردوګاه جوړ کړ  چې په دي اردوګاه کی  مونږ ته د پاکستا ن نظا می افسران  تعلیم  راکول  سلاح  مونږ ته له  امریکی  څخه  راتلل او زمونږ مصا رفات  او لګښتونه دعربستان سعودی له طرفه تامین کیدل.»  .

د پاکستان پخواني لمړي وزیره اغلي **بینظیر «بوټو»** په یوه سرخلاصه وینا کي داسي یا د ونه وکړ:

«  هیڅوک فقط پا کستان  د  «افغانستا ن د جګړي» په اړه  ګرم  نشي بللی اودا ځکه چې  د طا لبا نو تشکل یا د  هغو جوړښت د یو  منسجم پلان  پر بنیا د دامریکي د متحده ایالاتو له خوا  د سعودی عربستا ن  په مالی مرستي اود پاکستان په اغییزمن توب  سره رامینځته شو.» .

د طالبانو درژیم  دما لی د وزارت پخواني  وزیر **آغاجان معتصم** د نیویارک ټایمز سره په یوه مرکه کي  داسی څرګندونه کوي :



آغا جا ن معتصم

» هغه  یعنی **آغاجان معتصم**  داسی توضیح کوي اوهغه داچي کله امریکایانو په کال

(۲۰۰۱) پر طا لبا نو با ندي هوايي يرغل پيل کړ زه د يو داکتر په ځيره کي د سري
ميا شتي ديو امبولانس پواسطه سره د افغانستان له سرحده هغه غا ړی يعنی پاکستان ته
واغوښتم اود طا لبا نود نورو مشرانو سره کوم چي هغوی هم له افغانستان څخه پاکستان
ته راستون شوي وه د پا کستان د کويټي په ښار کی سره يوځای شولو او زه د طا لبا نو
د جنبش د ما لی کميټی د مشر په توګه وټاکل شم کوم چی اوس هم دهمغی وخته څخه
را هيسي په لس ګونو طالبانو په کابل کی خپل ورځنی ژوند تيروي . » .

هغه يعنی **آغاجان معتصم** پخپل لمړنی پرواز کي سعودی عربستان ته په سفر لاړ
يعنی داسی يو هيواد ته کوم چی دوحدت اوديوالی يوه ډير په زړه پوری هيواد دي او هغه
داچي زياتر هغه مرسته کونکي يا «دونرانو» کوم چي مونږ سره ما لی مرستي کول دهغو
سره می دحج کولو په مراسمو کي وليدل نو دطالبانو دغه مشر دکال (۲۰۰۲) څخه بيا
ترکال (۲۰۰۷) پوری هرکال دوه يا دری ځلي سعودی عربستا ن ته د مرستی د ترلاسه
کولو د پا ره په سفر تلل اما کله چي هغه د سعود عربستا ن د مقا ما تو څخه دهغو د نه
بريا ليتوب په اړين پوښتنه وکړ ، سعودی مقا ما ت د خپل ناکامی سبب داسي په ګوته
وکړ ل چي زمونږ غټه ستونزه دادی چي مونږ د حج په مراسمو کی نورمال حا جی
د تروريست له حا جي څخه نشو بيلولی يا هغوی نشو تشخيصولي.

سعود يا نو کوم چي يو وخت طالبانو سره مرستي کول دافغانستان ديو قبيلی مشر
اودافغانستان دعالی شورا غړی ښاغلی روح الله «وکيل» په يوه خبری ناسته کی داسی
څرګندونه وکړ: مونږ د سعودی عربستا ن له مقا ما تو څخه وغوښتل چی زمونږ سره
مرسته وکړی اوزمونږ د سولی ددا عی دهڅو اواند څخه ملاتړ وکړي مګر هغوی په دی
مورد کی هيح علاقه ونه ښودل او زمونږ دغوښتني په وړاندي خپل بی ميلي وښودل
دافغانستان دعالي شورا دغه غړي دخپل خبرو په دوام سره داسي زيا ته کړ : چی دوی
له يوسره ځما د مرستي غوښتلو په وخت کي ځا ن کا نه واچول او زمونږ سره مرستي
ونکړل .

دامريکی د متحده ايالاتو د با ند نيوچا رو دوزارت پخوانی مشا ور ښاغلي **ولی نصر**
(Vali Nasr) ووېل چی دسعودی عربستان مسولو مقاماتو طالبانو ته اجازه ورکړ چی
د ا فغانستا ن د پشتون کارګرانو څخه چي په عربستا ن کي مزدوری کوي په ميليونو
ډالر ما ليه له هغوڅخه را ټول کړي نو په دی بنيا د سره طا لبا نو پردغه افغا نی پښتون
مزدورکارګرانو با ندی ما ليی ورکول تحميل کړ او هغوی ته ګواښ وکړ که چيري
هريو د تاسو مونږ ته ما ليه رانکړی نود ستا سو کورنی په افغا نستا ن کی به زمونږ
د تهد يد اود مرګ سره به مخا مخ شي. هغه دخپل خبرو په دوام سره داسی تصريح کړ
اوهغه داچي « دغه دطالبانو کړنه کوم چی له دغه افغانی مزدورانو څخه ماليه په تهديد
او ګواښ سره ترلاسه کول بی د عربستان سعودی داړينو مقا ما تو د شين ځراغ په نه
ښود لو سره نه ترسره کيد ل .

افغانی چارواکو یو ځلی ددغه پیسو په اړه کوم چې په عربستان کی طا لبا نو دافغانی پښتون مزدورکارګرانو څخه دما لیی ترعنوان لاندی تر لاسه کول داسي سپینا وی وکړ چی دغه پیسی دغیرعادی چینلونو په واسطه سره دپا کستان په قبا یلي سیمو کي طا لبا نو ته رسید ل یعنی دسرحدی غیر رسمی بانکونو دلاری څخه طا لبا نو ته را انتقا لید ل.

سربیره پرهغه دافغانستان وملی امنیت پخوانی ریس ښاغلی رحمت الله «نبیل» څرګند کو چي مونږ پروسږکال داسی موثق اطلاعات تر لاسه کړ چی دالقاعدی کورنی د سروزر د ذخا یرو په لرلو اوسپما سره دافغانستان ختیځی سیمی ته را ننوتلی دي .

د بلی خواڅخه د سعودی عربستان داستخباراتو پخوانی ریس چی د(۲۴) کالو د پاره دنوموړی هیواد داستخباراتو مشر وه داسی ادعا کوی چی سعودی عربستان طا لبا نو ته زما د ما موریت په دغه موده کي یوه (پینس) مرسته نه دی کړي .

په دی تازه څو وروستیو میا شتو کی طا لبا نو او ځنی نورو شبهه نظامی ډلی ټپلي ته کوم چي دهغوی شمیر تقریباً (۴۰۰۰۰) جنګیالیو ته رسیږی دهغو دجګړی د تحرک اوددوام د پاره افغانی حسابونو ته له بهره څخه دیو امریکا یي منبع په حواله سره نژدی یوملیارد دالر پیسی را چمتو شوی دي .

په ورته وخت کی د سعودی عربستا ن د اشرف غنی د دولت د دفاعی د هوکی لیک دپرمختګ په اړه سره د عربستا ن د شیخا نواود فارس د خلیج نورهیوادونه په پراخه بنې سره داسی پلمی وړاندی کوی چي په افغانستان کي دوها بی د طریقی دترویج دپاره کوم چی دایران سره سازګار نه دی چندان هلی ځلی نه ترسره کیږي. کوم چي دهغه زیری څو کا له د مخه کرل شوی دي .



**محمد اشرف «غني» دافغانستان جمهورریس**

ددولت دپراختیا په سطح کي جمهور ریس اشرف «غنی» په لمړیو کي دسعودی عربستان یوځی عملیا ت پریمن با ندي عربستا ن ته دخپل دوهم سفر په لړ کي دهغه هیواد دپاچا « **سلما ن**» سره په کتنه کي تاید او خپل پلوی هغه ته ښکا ره کړ کوم چي د اشرف غنی د دی پلوی په مقا بل کی چی دعربستا ن تهاجم پر یمن باندي تا ید کړ

دافغا نستا ن په د ننه کی مختلف غبرگونونه رامینځته شول ، اما کله چې جمهور ریس اشرف غنی له سعود عربستا ن څخه بیرته هیواد ته را ستنید ل نو د سعودی عربستان د لوړ پوړی مقا ما تو سره د خدای پاما نې دلاس ورکولو په وخت کی له هغو څخه وغوښتل چې د عربستان له شیخا نو څخه ځما هیله دادی چی د طا لبا نو سره دما لی مرستو پر ځا ی هغوي با ید طا لبا ن وهڅوی چې زمونږ سره د مذاکری د میز تر شا کیښیني .

له بلی خوا څخه لکه چې ټولو ته معلوم دي د سعودی عربستا ن یواځنی هد ف په افغانستان کې دایران د نفوذ راکمول دي کوم چې اوس له حالاتو څخه داسی را ښکاری چې دایران نفوذ په مینځنی ختیځ کی په بشپړ بڼی سره د نوسا ن په حا لت کې دي اما دسعودی عربستان اودایران ترمینځ رقابت تریوه زیات حده پوری داسلام پر نړې باندی دحاکمیت اودهژموني موضوع دي چې په نسبي بڼی سره دغه سیا لی دوه گوني مذهبی دریځ لري - اما دافغانستان په مورد کې یوه ایرانې دیپلومات چې دخپل پیژندگلوی څخه ډډه وکړ خپل نظرداسی وړاندی کړ :ددی احتمال وړل کیږی چې دغه دوه رقیبان (ایران او سعودیعربستان) په افغا نستا ن کی په مخا مخ کیدو سره په ټکر کې سره ولویږي .

دافغانستان اودسعودی عربستان تر مینځ په دي وروستیو وختونو کی ددوستی اود ملگرتیا کچه خپل لوړ څوکی ته رسید لي اوهغه داچې سعودی عربستا ن دافغانستا ن سره دی موافقی ته سره رسید لی چې هغه هیواد د (۵۰۰) میلیونودالرو په لگښت سره غواړی چې دافغانستان په جنوب ختیځ یعنی دننگرهاردولایت په مربوطاتو کی یواسلامی پوهنتون جوړ کړي دغه موافقه ددواړو هیوادونو ترمینځ هغه وخت هوکی کړ شو کوم چې دافغانستان داسلامی جمهوریت اجرایوی ریس « عبد الله» په ویاړ د سعودی پاچا سلما ن له طرفه یوه شا نداره میلمستیا په ریاض کې جوړ شوی وه .

د دغه پوهنتون موقیعت دعراق وسوریې داسلامی افراطی دولت (ISIS) دبلوا سیمي د ننگرهار پوری تړلی اولسوالیو د پاکستا ن پولو ته نژدی ځای په نښه شوی دي چې هلته باید ددی پوهنتون د بنسټ تیگه کیښودل شی –دیادونی یو بل وړ مطلب دا دی چی د(بی بی سی ) یوخبری اواطلاعاتی تیم دخطر په منلو سره دغه ځای ته کوم چې دغه اسلامی پوهنتون هلته جوړیږی دخبرواود اطلاعاتو دتر لاسه کولو د پاره دغه د ښته اوبیا بان ته تللی وه دا هغه ځای دي چی د داعش دجگړه مارو دا وسید و له محل څخه چندان لیری واټن نه دی نو بیاهم سعودی عربستان په ډیرډاډه زړه داسلامی پوهنتون د جوړولو دپاره دغه ځای په نشه کړی چې هلته با ید د دی پوهنتون د بنسټ تیگه کیښودل شي او داچې ولی سعودی مقامات په افغانستان کی داسلامی بوهنتون جوړونه دننگرهار ولایت ټاکلي دي تصادفی خبره نه دي بلکه ددی پوهنتون دجوړوني پر محل او موقیعت با ندي ډ یر ژور فکر شوی اوهغه داچې به دغه سیمو کی زیات اویا اکثراً سنی مذهب پښتا نه ژوند کوی او عربستا ن سعودی له داعش اود نورو تروریستی گروپونو څخه ددی پوهنتون

دجوړوني په هکله کوم داسی سترتشویش نه لری چی ګوندی ددغه پوهنتون دجوړونی په مقابل کی خپل مخا لفت را ښکا ره کړي .
هغه څه چې د سعودی عربستان لوړ پوړی مقا ما ت دی ته راو هڅول چي په دی لوړه پیماني سره په ننګرهار کی داسلامی پوهنتون په جوړونه کي سرمایه ګذ اری وکړی دهغه موجب اوانګیزه هغه د ننګرهار په پوهنتون کي د پروسږکال داسلامی افراطی محصلانو تظاهرات وه چي په رڼاورځ کی دداعش دتور بیرقونوپه لوړولواودکابل درژیم پر ضد دشعارونو په ورکول سره خپل کرکه اومخا لفت را وښودل نو د همدی پورتنی حالاتو په نظرکی نیولو سره کارپوها نو په دی با ور دی چي سعودی عربستان په دي لټه کی دي چی ددغه نوی اسلامی پوهنتون به جوړولوسره دلته په افغانستان کي دیوړ یر کلک اسلامی دولت بنیاد لا پسی ټینګ کړی اودخپل هغه اهداف چي په سرکی لری هغه اهداف پلی کړي .
**ددی مقا لی د لیکونکی په هکله یو څو کرښه** : (۲۹) کلن مسعود« ودان» دافغانستان تبعه په کا بل کي دترکیی دپوهنتون دادبیاتو له څا نګي څخه فارغ التحصیل او په کابل کي میشته یوه ځوان مجرب لیکوال دی چه هغه د امریکی یو ویب سا یت ته چي (American vetyeran today website) نومیړی مقا لی لیکی اودهمدی ویب سا یت د لیکوالو په ستا ف کی یو لیکونکی غړی دی چی د همدی دوو کلنو په موده کي (۲۹) مقالی دافغانستان اود منطقی پر موضوعاتو باندی لیکلی اونوموړی سا یت ته دنشر دپاره لیږلی دي هغه ډیر تما یل لری چی موضوعا ت د څیړنی له پلو نسبت ودی ته چي موضوعات تحلیل کړل شی با ید په نظر کی ونیول شي .
---------------------------------------- **په درنا وی** **«2017-04-11»**